مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۱۴

# زما تولنه

زه د یوې داسې ټولنې غړی یم چې کونډه ښځه پکې د غم پاللو له تور رنګ پرته بل رنګ جامې نشي اغوستلی، خو نر (کونډ) پکې هر رنګ لباس اغوندي.

زه د هغې ټولنې غړی یم چې ښځه پکې د خاوند له مړینې وروسته پاتې ژوند د کونډې نومې مهر/ټاپې سره یوځای تیروي، خو نارینه کولی شي د ښځې له مرګ وروسته هم په میاشت کې واده وکړي.

مګر زه غواړم دا هر څه بدل شي، کونډه د خاوند له مرګ او د عدت له نیتې وروسته هم رنګا رنګ جامې واغوندي.

زه غواړم کونډه د خاوند له مړینې وروسته بیا عشق وکړي او یو ځل بایللی فرصت بیرته ترلاسه کړي. واده وکړي او یو نوی ژوند تیر کړي چې په هغه ټول مهال یې له نوم سره د کونډې ټاپه نه وي.

سمسور ودان

.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ